# هوپو تعليمي کيسې

## هوښيار هلک او داړونکی ځناور

## کاغذي پاکټونو نانځکه





پر لاس د خلتې/ پاکټ راکاږلو سره، د نانځکې خوله وخوځوئ.

**مواد چې اړتيا به ورته ولرئ:**
غرمې ډوډۍ اندازه کاغذي پاکټ، رنګه پنسلونه، کرايون (د موم رنګې)، مارکر، ځليبن، نبلوونکي خپروونکی، رنګه جوړښتي کاغذ يا کارتونه، سکاش ټيپ، کيچې، سټيپلر، د ميزونو لپاره اخبار.
**اختياري:** کاغذي دستمال، راتاوونکی کاغذ، د سودا پخوانۍ خلتې، پاپيونو پاکوونکي، تاوونکی، مرۍ (مشکنې)، تنۍ، د ټوټو چنډې، د ويښتو لپاره تارونه، پلاستيکي سترګې، او نور

۱. د پاکټ (خولې بندوونکي) رپاندي پوښ په اندازه کارت يا جوړښتي پاڼه راواخلئ، د هوښيار هلک مخ پاسنۍ برخه (سترګې، غوږونه، غومبوري/ اننګۍ او پوزه) رنګه کړئ. يا، پر پلاستيکي سترګو، رنګه کاغذي سترګو او غومبوري او نورو يې ځليبن کړئ. کله چې رسامۍ وچې شي مخ راپرې کړئ.

۲. د سره جوړښتي کاغذ پر کارولو د هلک خولۍ رسم او سينګار کړئ، پام مو وي چې د سر له اندازې سره يې سمه وي. د هلک پر سر يې ځليبن کړئ.



۳. د ويښتو او غوږونو لپاره د جوړښتي کاغذ ټوټې پرې او ځليبن کړئ. کله چې سر پوره وچ شو، د خلتې رپانده کاغذ پورې يې مناسب ځليبن کړئ پام مو وي چې رپانده کاغذ لاندې پاکټ پورې ځليبن نه کړئ.



۴. د جامو نور شکلونه، لاسونه، بوټان او پښې له جوړښتي يا سپک کارتي کاغذ څخه پرې کړئ. ټوټې يوځای سره ځليبن يا رابرټيپ کړئ او له خپلې خوښې سره سم يې پر رنګولو، رساميلو، مشکنو ورډيرولو، تنيو، زر زريو، زري کاغذونو او نورو سينګار کړئ. کله چې تنه وچه شي، ټوله ټوټه د بکس مخې ته ځليبن، سکاچ ټيپ يا سټيپلر کړئ (پام مو وي چې خلته بنده نه کړئ) .

۵. د رپانده کاغذ لاندې پر تور پس منظر سره ژبه رسامي يا ځليبن کړئ. نور توکي لکه هندوانه، تخمونه او اوبو لوښی رسامي او پرې کړئ. دا توکي د لوبې لپاره د اړتيا وړ ځايونو کې ځليبن، رابرټيپ يا سنجاق کيدای شي.

له استعمال وړاندې نانځکې وچيدو ته پريږدئ. ځيني وخت د ټينګولو او ثبات لپاره لږ إضافي ځليبنو يا سټپلر سنجاق ته اړتيا وي. **ښه وخت ولرئ!**




د نانځکو او توکو په اړه نورو مفکورو لپاره، راتلونکی پاڼه وګورئ.

### د نانځکو ډرامې/ تياتر نظرونه/ مفکورې

- پر ميز سرميزي يا ټوټه واچوئ او زده کوونکي د ميز لاندې کښيني او خپلې نانځکې د ټوټې له لاندې راباسي او غږيږي.
- (د برقي سامانونو کارتنونو په څېر) لوی کارتن مخ کې څلور کنجه کړکۍ ورکړئ، او "سټيج" دروازه شاته ورکړئ. يو يا دوه زده کوونکي په کارتن کې کينوئ تر څو خپله ډرامه/ تياتر وړاندې کړي.
- يو بل ته مخامخ چوکۍ کيږدئ، او له زده کوونکو وغواړئ مخامخ کيني او خپلې ډرامې اجرا کړي. دا نانځکې د ډرامې په مرکز يا زيرمه ځای کې وساتئ تر څو هر وخت چې اړتيا وي، لاسرسی ورته وشي.

هوښيار هلک او داړونکی ځناور د ادريس شاه ليکنه، د روز ماري سانتياګو رسامي، ۲۰۰۰ کال حقوق





**لښتو نانځکی:** ځناور او نور
توکي رسامي، سینګار او
پرې کړئ. د پرې شوو
شاته پنسل یا لښته را برټیپ
او د حرکت لپاره یې
وخوځوئ.



